UNITED NATIONS NATIONS UNIES

**د ملګرو ملتونو بیانیه په افغانستان کی**

**د جون ۲۹ نیټه کال ۲۰۱۰، کابل-** ملګرې ملتونه تاییدوی چی نن سهار په کابل کی د ملګرو ملتونو په یو موټر باندی چی په کی د دی سازمان دوه تنه کارکوونکي وو، ډزي تر سره شوي. په خواشینی سره چی یو تن افغان کارکوونکی خپل ژوند د لاسه ورکړ. دویم افغان کارکوونکی روغ رمټ دی.

ملګري ملتونه خپل مخلصانه تسلیت د دی وژل شوی کارکوونکی کورني ته چی په دی مرحله کی یی نوم ښودل کیدای نشی، وړاندی کوي.

دا چی ولی دا ډزي تر سره شوي دي، څرګنده نه ده. د ملګرو ملتونو امنیتی ټیمونه د افغان امنیتی چارواکو سره د پلټنو په تر سره کولو کی مرسته کوي.

ملګري ملتونه هر ډول تاوتریخوالی د هر ډول شرایطو لاندی د خپل پرسونل په وړاندی غندي. هر څوک چی د دی وژنې تر شا دي، بی له ځنډه باید د قانون منګولو ته وسپارل شي.

پای